SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

څلورم کال پنځه پنځوسمه گڼه پرله پسې (۲٤٥) یکشنبه د۱٤۲۰هـ ق کال د ربیع الثاني (۱۹)د۱۳۷۸هـ ش کال د زمري دمیاشتي(۱۰)د۱۹۹۹میلادي کال داگست (۱)

قرار گزارشات موثق :

مسعود به کمك نظامیان خارجي به مخالفت علیه امارت اسلامي افغانستان ادامه میدهد

همـــین اکـــنون انجنیران نظـــامي هــند در خاواك مصـــروف فعالیت اند

قرار گزارشات موثق به منابع خبري منطقه، تصدیق گردیده است که بر علاوه روسیه کشور هند نیز به مداخلات مستقیم نظامي خو در امور کشور ما آستین بلند نموده و با حمایه و تجهیز نظامي و تخنیکي مخالفین امارت اسلامي افغانستان آتش جنگ در افغانستان را مستمر ساخته است. قرار اطلاعات به تعقیب ملاقات هاي نماینده گان مسعود با اعضاي دولت هند در پنجشنبه و دوشنبه هند چهار هلیکوپتر نظامي و مقادیر زیاد سلاح و مهمات و تجهیزات نظامي را به ملیشه هاي مسعود کمك نموده است همچنان نظامیان هندي پل میدان هوایي نظامي را غرض سهولت به ملیشه ها در منطقه خاواك اعمار نموده و انجنیران هندي مستقیماً در آن جا حضور دارند.

در خبر افزوده شده که ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډېر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

له اسلامي امارت سره د مخالفینو د پیوستون په سلسله :

قوماندان عبدالهادی صافی له خپلو ۶۰۰ تنو وسله والو کسانو سره د اسلامي اردو په لیکو کې ودرید

قوماندان حبیب افغان هم د خپلو دري سوو مسلحو افرادو په ملتیا د مسعود پر ضد سنگر ونیو!

د مسعود پر خلاف د مخالفو قوماندانانو پاڅون د ملیشو د تېغــــر د تولیدو په معني ده

د اسلامي امارت د مخالفینو یو تن قوماندان د خپلو شپږ سوه تنو وسله والو افرادو په گډون د نجراب ولسوالي په مربوطاتو کي د اسلامي اردو له مجاهدینو سره یو ځاي شو.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د افغانستان له اسلامي امارت سره د مخالفینو د قوماندانانو د پیوستون په دوام په دي وروستیو وختو کي قوماندان عبدالهادي صافي د خپلو شپږ سوه تنو وسله والو افرادو په گډون د نجراب ولسوالي په مربوطاتو کي د مخالفینو له لیکو نه جلا او د اسلامي اردو له مجاهدینو سره یو ځاي شو.

د یو بل خبر له مخي حبیب افغان د خپلو دري سوه وسله والو افرادو په گډون د نجراب ولسوالي په مربوطاتو کي د اسلامي اردو له مجاهدینو سره یو ځاي شو او په خپله خوښه د مسعود د ځواکونو پر خلاف د جگړي لومړیو کرښو ته روان شو او ژمنه یې وکړه چې د خپل ټیندانه ـ تر ـ وروستي سلگي پوري به د ظلم او فســاد د تغــر د راپولولو او په ټول هیواد کي د اسلامي نظام د ټینگښت په لاره کي مبارزه وکړي.

باید وویل شي چې د مسعود پر خلاف د هغه د قوماندانانو پاڅون د ملیشو د تېغر د تولیدو په معني ده.

په تیرو دریو میاشتو کي :

د ستري محکمي د اړوندو دیوانونو لخوا د ٤۱۳ دوسیو په هکله پریکړې صادري شویدي

په تیرو دریو میاشتو کي د افغانستان د اسلامي امارت د ستري محکمي په بیلا بیلو دیوانونو کي د محمدي غرا شریعت په رڼا کي له دقیق او هر اړخیز غور او څیړني وروسته د څلور سوه دیارلسو ډول ډول پیچلیو دوسیو په باب پریکړي صادري شویدي.

د ستري محکمي یوه مسؤول خبرځاي د باختر اطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ د ستري محکمي مشرتابه د محترم مقام د دایمي پاملرني له امله په تیرو دریو میاشتو کي د محمدي غرا شریعت د لارښوونو په رڼا کي د څلور سوه دیارلسو ٤ مخ

دروس کورسهاي آموزشي در وزارت تحصیلات عالي آغاز گردید

کورسهاي آموزشي و توسعه معلومات در عرصه اداري براي مامورین و آمرین جدید التقرر وزارت تحصیلات عالي ایجاد و دیروز آغاز گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در محفلیکه بهمین مناسبت دایر ص ٤

در ولایت ارزگان :

چندین جریب زمین از وجود بته هاي چرس پاکسازي گردید

موظفین ریاست امر بالمعروف و نهي عن المنکر ولایت ارزگان دیروز بیش از پنج جریب زمین را از وجود بته هاي چرس پاکسازي نمودند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : به ادامه مبارزه با منکرات و جلوگیري از کشت چرس و سایر مواد مخدر موظفین ریاست امر بالمعروف و نهي عن المنکر ولایت ارزگان دیروز در پي عملیات مبارزاتي خویش بیش از پنج جریب زمین را که قبلاً در آن چرس کشت ٤ مخ

در مناطق تحت ظلم ملیشه ها :

مخالفت ها علیه افراد شوراي نظار افزایش کسب نموده است

اهالي بدخشان منتظر ورود هرچه زود تر مجاهدین امارت اسلامي به مناطق شان اند

شریعت : اطلاعات واصله از مناطق تحت ظلم ملیشه ها حاکیست که مظالم افراد شوراي نظار بر مردم شدت کسب نموده و بي اعتمادي آنها بالاي افراد دیگر بصورت غیر رجعي صعود نموده است. گفته میشود که مسعود هر قوماندان و جبهه منطقه خود را که مربوط شوراي نظار نیستند تحت نظارت شدید قرار داده و عقب مواضع شان افراد شوراي نظار را جا بجا نموده تا از فرار انها جلوگیري نماید در مقابل مخالفت افراد و قوماندانان مسلح بر ضد ص ٤

گزارش سفر کابل - تاشکند - کابل

دیپلماسي فعال ا.ا.ا در اجلاس گروه ۶+۲ منعقده تاشکند

خوانندگان عزیز!

طوریکه اطلاع دارید در این اواخر هیأت عالیرتبه امارت اسلامي افغانستان تحت ریاست محترم ملا امیر خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ و هیأت مشتمل بر محترم مولوي عبدالرحمن «زاهد» معین وزارت امور خارجه، محترم دکتور عبدالستار «پکتیس» رئیس تشریفات وزارت امور خارجه، محترم احمد ضیأ «شریقي» عضو ریاست تشریفات وزارت امور خارجه و محترم نور علم معاون بورد ترجمانان وزارت امور خارجه جهت اشتراك در اجلاس گروه ۶+۲ عازم تاشکند گردیده بودند. گزارش سفر متذکره تحت عنوان فوق سر از شماره آینده به طور سلسله وار به نشر میرسد

اداره

اندري گروموف متخصص امور آسیاي میانه :

سوالي براي حضور عساکر روسي در تاجکستان، در سرحد افغانستان ایجاد نمي شود

دوشنبه : اوضاع افغانستان با به روي صحنه آمدن طالبان به تناسب چند سال گذشته بهبود یافته و این کشور به سوي ثبات به پیش مي رود اندري گروموف متخصص امور آسیاي میانه در گفتگو با آژانس خبر رساني انترفکس گفت که نگراني روسیه از ناحیه بي ثباتي در افغانستان بیجا بوده و دلیلي براي باقیماندن عساکرش در سرحدات ص ٤

کانادا در عرصه هاي مختلف با امارت اسلامي افغانستان مساعدت مینماید

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در این ملاقات در حالیکه محترم ملا سعد الدین «سعید» معین اول آن وزارت نیز حاضر بود ضمن آنکه چگونگي وضع شاهراه ها و پلانهاي ساختماني ساختمان سرکها، میدانهاي هوایي احداث خط ریل و غیره مسایل دیروز در ملاقات محترم سرپرست وزارت فواید عامه با هیأت کانادایي مورد بحث قرار گرفت.

وزارت فواید عامه مورد بحث قرار گرفت هیأت کانادایي که اخیراً وارد کابل گردیده است از ادامه همکاري آنکشور در رابطه به ساختمان سرکها، میدانهاي هوایي، احداث خط ریل و ص ٤

نیرو هاي امریکایي به حضور یکصد ساله خویش در کانال پانامه پایان بخشید

یکقطعه نیرو هاي مسلح ایالات متحده امریکا دیروز با ترك گفتن پایگاه هاي خود در دو طرف پانامه رسماً به حضور نظامي یکصد ساله خود در این کانال پایان داد. عقب نشیني نیرو هاي ایالات متحده امریکا از دو طرف کانال پانامه مبتني بر موافقتنامه ص ٤

داسي اټکل کیږي چي :

د انگلستان د دفاع وزیر به د ناټو راتلونکي سرمنشي وي

د ټړیوالو خبري منابعو د خبر له مخي ټاکل شویده د انگلستان د دفاع وزیر جورج رابرټسون د شمالي اتلانتیك د سازمان یا ناټو د عمومي منشي په توگه وټاکل شي.

د انگلستان صدراعظم توني بلیر په دي باب څرگنده کړه چي د شمالي اتلانتیك د سازمان زیاتروغړو هیوادونو دده له ټاکني سره موافقه کړیده.

د شمالي اتلانتیك د سازمان اوسني عمومي منشي هاویر سولانا به په راتلونکي کي د اروپایي اتحادیي د گډ امنیتي او بهرني سیاست د سمون دنده په غاړه ولري.

بنایي ساختماني دستگـــاه د افـــغانستان د اســـلامي امارت د عام المنـــفعه پرژو د بیـــا رغـــاونې او ودانولو چـــاري په غـــاړه لري

شریعت : زمونږ خبریال بنایي ساختماني دستگاه له رئیس محترم ملا عبدالمتین مولوي زاده سره د هغې تصدي د کار او فعالیت په اړوند لنډه مرکه کړي او لاندي رپوټ یې برابر کړي دي

د بنایي ساختماني دستگاه د فواید عامي وزارت په چوکاټ کي د یوي بشپړي انتفاعي دولتي تصدي په بڼه د ۷۶ ملیونو افغانیو ابتدایي پانگي په کار اچولو سره په ۱۳۵٤ هجري لمریز کال په خپلو ساختماني چارو پیل وکړ او د ډېر کم وخت له تیریدو وروسته یې د هرات او ننگرهار په ولایتونو کي خپلي ساختماني نمایندگي پرانیستلي.

د بنایي ساختماني دستگاه انجنیرانو او کارگرانو په ته ستړي کیدونکي کار او فعالیت سره د کابل هرات او ننگرهار په ولایتونو کي د ملیاردونو افغانیو پانگي په کار اچولو سره د لس گونو عام المنفعه ساختماني پروژو کار په بریالیتوب سره سرته رسولي دي د بیلگي په توگه د یو شمیر هغو پرژو د ساختماني چارو یادونه کوو چي ددغي ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د باطل او ناروا وروستي برخه لیك زوال دي

د افغانستان د اسلامي امارت مخالفین یوازي د اسلامي امارت نه بلکي د هیواد او هیواد والو او په هیواد کي د اسلامي نظام مخالفین هم دي د دوي زیاتي ډلي ټپلي د خپل ازلي برخه لیك په حکم ورکي او نابودي شوي، پاته یې یوازي د نظار شورا ده هغوي هم د خپل زوال او نابودي شپي شمیري او په دي باور سره یې د تاجکستان په کولاب کي د ځانونو لپاره د غلامي کلي کورونه یعني د سیاسي مرگ قبرونه تیار کړي دي او داسي نښي نښاني دي چي د ورکوالي شپې یې ډېري رالنډي شوي دي.

د نظار شورا له شوروي سره د اسلامي جهاد په دوران کي د درباني د جمعیت په ډله کي وه، آن له هغه وخته یې د هیوادوالو په دښمني کي د حکمتیار له ډلي سره یو د بل د افرادو، کورنیو او کلیو په ورانولو ۲ مخ

په امریکي کي هر کال ۸ لکه تنه د ځان وژني هڅه کوي

په امریکا کي هر کال څه نا څه اته سوه زره تنه د ځان وژني له امله د روغتونونو بیلا بیلو برخو ته استول کیږي.

او په منځني توگه له دغي جملي څخه دیرش زره تنه وژل کیږي دا شمیر نه ددي سبب شویده چي د ویدنانچر په نامه یو امریکاي داکتر ځان وژنه د یوي ملي ستونزي په توگه بللي ده د امریکا د جمهور رئیس د مرستیال میرمن د امریکا په سپینه ماڼي کي په امریکایي ټولنه کي د ځان وژني د مخنیوي غوښتنه وکړه هغه وویل ځان وژنه زمونږ د ملت د سلامتیا لپاره جدي گواښ دي، او ډېر وخت شته چي موږ په دي توگه له هغي سره چلند کوو موږ ټول ص ٤

د نیمروز ولایت مرکز د پراختیا او لا ښکلا په درشل کي ده

د نیمروز ولایت د نوي مرکز غور غوري ښار په ساحه کي د استوگني د کورونو او د کانونو دري سوه نمري څمکه په مستحقو کسانو باندي وویشل شوه.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د غور غوري ښار چي څه موده مخکي د نیمروز ولایت د مرکز په توگه ټاکل شویدي د پراختیا په حال کي دي او په دي وروستیو وختو کي په دغه ښار کي د استوگني د کورونو او د کانونو دري سوه نمري ځمکه په مستحقو کسانو باندي وویشل شویده. ٤ مخ

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکړ»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

وژلو او سپکولو پیل وکړ چې بیا یې لري د کابل تر خپل منځي جنګونو را ورسیږه او د هغو جنګونو بد مرغه ننداره هیوادوالو او نړۍ والو وکړه چې نښې او اغیزې به یې تر پېړیو پاتې وي.

د رباني تر عنوان لاندې د دوي د نیمګړي اقتدار موده د ټول هیواد او بیا د شمال د ولایتونو په برخه کې د هغه چا لپاره چې «انرشي» یې نه وه پیژندلې عملي درس او لیدوني انځور و په دغه موده کې له هغه چا پرته چې د رباني او مسعود د جیبونو تر څنګ ناست و بل هیڅ هیواد وال د خوښۍ او ښادۍ مخ ونه لید بلکې کړاوونه وو، ستونزې وې، وینې او ویرونه وو ... !

څومره ښیرې او ازارونه چې دوي ګټلي دي شمیر به یې یوازې د کرام الکاتبین (علیهم السلام) په دفترونو کې ثبت وي مګر نښې یې دا دي چې داسې ظالمین او ازار ګټلي یو په بل پسې د ورکوالي په لوري روان دي!

په سر کې یې د ظلم د نا اشنا ډلونو مؤسس مزاري او د هغه ډله وه چې څومره رسوا او شرمنده انجام یې په برخه شو، ورپسې یې نور پاتې شوني هم څوک په مرګ او څوک په ژوند ورک شول، ورپسې د کمونیست عبدالمالک او کمونیست دوستم ډلې د نابودي کندې ته ټېل وهلي شوې، نوم او نښان یې ورک شو،

حکمتیار هم یې برخې پاته نه شو د ناروا قتلونو او کابل دورانولو څپېړه یې له هغې تیتي نه پخوا په مخ وخوړه چې ده د کابل او هیوادورانولو ته ټاکلې او اعلان کړې وه چې هغه ده په وینا پنځه ویشت نور کلونه هم وو، د رباني د جمعیت نوم هم ورک دې یوازې دده نوم کله نا کله یادیږي اوس د نظار د شورا او مسعود (علی شفا جرف هار...) د نړیدلي پاڼ په څوکه ولاړ دي چې ډېر ژر یې د نړیدلو احتمال دي!

احمد شاه مسعود او ډلې ته یې چې څه ناروا وي او ظلمونه په مخه ورغلي دي لومړي په کابل بیا د شمالي په سیمو کې صرفه نه ده وړاندې کړي، د هیوادوالو په کچ خو لا پریږده د هیواد په کچ یې د هیواد تجزیې ته ملا تړلې وه کمونستان یې له ځانه سره کلک وساتل روسان د افغانانو د ستر دښمن، ځان خوږلي شوروي په ځاي ناست او د افغانانو د سر او مال پروړي دي، مګر دغو ظالمانو د رباني په خوله د برائت غږ ور کړ او دوستي ورسره پیل کړه افغانان خو به دغسې برائتونه کله هم ونه مني خو د دوي ګوډاګیتوب یې ښه وپیژاند د افغانستان په حریم یې د امریکې د کروز توغندیو پوځي تیرې په ډېره بې غیرتي سره تایید کړ او هم یې په افغانانو د امریکې د اقتصادي تش په نامه بندیز، په ډېره بې ننګي او ټیټو سترګو د امریکې د ملاتړ را ماتولو لپاره تایید وکړ،

د ملي مفاخرو تر پښو کولو لپاره یې په ځینو ځایونو بهرني نوموته کیښودل، له اسلامي امت او جهاد سره د خیانتونو په لړ کې یې په کشمیر باندې د هندوستان ناروا تسلط تایید کړ او د افغان مجاهد نوم یې وشرماوه، رباني په خپل وخت کې زیات عرب سپیڅلي مجاهدین د مصر دولت ته په بې ننګي ورو سپارل، په شبرغان کې یې د امریکایي هیئت استقبال ته افغاني پتمني میرمنې ورواستلې، په ملي شتمنیو کې یې موزیمونه د پوهنتون او عامه کتابتونونه ولوټل، د متك او ښکې پلونه او د سالنګ تونل یې والوزاوه د کانونو ملي زیرمې یې په غیر فني توګه ویلتلې او په نیمه بیه یې وپلورلې، د هیواد د مخابراتو نړیوال کود یې خرڅ کړې و او ...

د داسې شرمیدلیو د زوال شیبې نژدې دي، له دوي نه دي د نړۍ ظالمان پند او عبرت واخلي چې د ظلم او ناروا پای څنګه وي ؟ له ازاره چا بازار موندلی نه دی» « د ظلم کاسه نسکوره وي »

ظالمي را خفته دیدم نیمروز
ګفتم این فتنه است خوابش برده به
آنکه خوابش بهتر از بیداري هست
آن چنان بد زندګاني مرده به

سعدي «رح»

ددې ظالمانو شوم برخلیك د هر چا لپاره د عبرت یو نه هیریدونکې درس دي. له هغه نه دي هر څوك د ځان د نجات لپاره پند واخلي.

معیار؟

پتې پاڼې

شهرت ننګیال

په مالیزیا کې واکمنو یو نوی حکم اعلان کړی چې د هغې له مخې به په دفترونو کې ښایسته ښځې نه ټاکل کیږي . پدې توګه په مالیزیا کې یوا زې بدرنګه ښځې په ادارو کې د تقرر چانس لري. دا څکه خو سرې ویلای شي چې په مالیزیا کې ښایست اورګرځیدلی او د پښتو هغه لرغوني لنډۍ هلته خپل مصداق پیدا کړی وي .

د مالزیایي واکمنو دغه حکم حیرانوونکی دی - تر دې دمه په دفترونو کې د ټاکنې یو معیار ښکلا وه په تیره په هوټلونو او هوایي شرکتونو کې خو ښکلا له هر څه بر او لوړ ځای درلود او سکرتریتونه خو د ښایسته تورسرو په برخه رسیدلي وو . تر دې چې ښکلا د انسان نیکمرغي بلل کیده، دا یواځې په ښځمنو کې نه بلکې په نارینه وو کې هم د امتیاز یو برید ګرځیدلی و ډیر به د مالیزیایي واکمنو دغه حکم د انساني فطرت مخالف ګام وګڼي ، خو له هغوی سره به د خپل حکم په دفاع کې د حکمت څه دلیلونه ضرور موجود وي هغوی ددغه اقدام یو دلیل دا ښودلی چې په دفترونو کې د کار پر ځای پیغلې او ځوانان په معاشقو او د مینې په راز او نیاز بوخت وو او دفترونه د مینې او عشق اډې ګرځیدلي دي

داسې ښکاري چې په اروپا کې هم د آزادۍ په نوم له مسلط او بربنډ کلتور نه خلک دومره ماړه شوي چې نور تري د مخ ګرځولو لوري لټوي - دلته دي چې یولنې د اسلام فطري ارخښتونو ته د راګرځیدو پرته د سکون او ډاډ بله لار ونشواي موندلی.

پوښتنه دا ده چې ښکلا کوم ځانګړی او ټولو منلی تعریف نه لري چې د هغې له مخې واکمن د ښکلا او بدرنګۍ توپیر وکړي. ښایې ځینې څیرې د واکمنو په وړاندې بدرنګه وګڼل

شی خو د ځینو نورو له پاره هغه د حسن معراج ګرځیدلې وي لیلا له رنګه توره وه خو مجنون پرې دومره مین وو چې د مینې داستان یې د **یوویشتمې پیړۍ په را ډېره کیدو هم له چانه دي هیر شوی.**

هغه څه چې مونږ یې بدرنګه ګڼو په **افریقایي هیودو کې د حسن او ښکلا عروج ګڼل کیږي .**

ذوقونه او سلیقې توپیر سره لري، حتی هم د واکمنو انتخاب، خوښه او ذوق له رعیت

سره توپیر لري، هغه څه چې رعیت او بیوزلو ته په زړه پورې دي ښایي واکمنو او پانګوالو ته جالب نه وي ، ددې پر عکس هغه څه چې د واکمن او پانګوال ذوق یې غوښتنه کوي ښایي رعیت او بیوزلو ته په زړه پورې نه وي .

وایي په پاکستان کې یو روحاني شخصیت داسې و چې په لنګر کې یې دوه ډوله خواړه پخیدل، یو اړخ ته غوښې پلوونه او چرګان وو ، بل لوري ته دال، لوبیا او عادي سبزي .

مخور او معتبر خلک به چې ورغلل دال او سبزي به یې ورته کیښوده او بیوزلو ته پلوونه ، غوښې او چرګان.

دده دلیل دا و چې بډایان همیشه غوښې او پلوونه خوري څکه خو دوی ته دال او سبزي په زړه پوري خواړه دي او بیوزلي چې په دالو او سبزیو ژوند شنه شوی غوښې او پلوونه د خوند خواړه دي دده په وړاندې بډایان له غوښو او پلوونو هومره خوند نشي اخیستلای هغوی ته غوښې او پلوونه تکراري خواړه دي او تکرار شنیع دی.

د ښکلا او ښایست انتخاب هم همداسې دی، د واکمنو او رعیت لید توپیر لري څکه خو ښایي مالیزیایي واکمن له خپل حکم نه هغسې پایله تر لاسه نشي کړای چې غواړي یې.

مالیزیایي واکمنو په ډاګه کړې چې د غو ښځو نارینه هم له کاره ایستلي، څکه خو په دفترونو کې چارې په خپل وخت نه تر سره کیدې او د یوې ورځې کار بلې او د بلې بیا بلې ته پاتې وې.

خبره تر ښکلا او بدرنګۍ پورې وه ، د پاکستان د تیرو پارلماني ټاکنو پر مهال یو سیاستوال ویلي و تورسرې څکه پدغو ټاکنو کې چانس نشي پیدا کولای چې ښایسته وې ته ښځې د حسد او رقابت له مخې رایه نه ورکوي او بدرنګو ته نارینه

اوس چې مالیزیایي واکمنو په دفترونو کې د تورسرو د ټاکنو په اړه بدرنګي معیار ګرځولی معلومه نه ده چې په دفترونو کې به په عاشقانه بندارونو د وخت د ضایع کیدو مخه ونیول شي که څنګه؟

زمونږ په هیواد کې پدې اړه نه ښکلا معیار دی نه بدرنګي معنا دا چې دلته له یوې مخې د رنګ له امتیاز او تبعیض پرته له دغه ډول **جنجالونو دفترونه بیغمه دي د علامه اقبال په وینا :**

تمیز رنګ و بو بر ما حرام است،

خود وخت په قیمت او ارځښت پسې څکه څوک دومره سر نه خوږوي چې د نرخونو او قیمتونو له لاسه خلک د وخت له قیمت او ارځښت نه هم پکو شوي دي.

صلیبي وسلوال استعمار څنګه په مفکوروي استعمار بدل شو

رحیم الله "حنیفي" - لومړۍ برخه

له نولسمې میلادي پیړۍ څخه وړاندې د صلیبیانو استعماري ځواکونو خپل ټول توان په کار واچاوه تر څو اسلامي نړۍ خپله او د **اسلام سپیڅلی دین د ځمکې له مخې بیخي لرې کړي.**

غربیان چې په دې پوه شول چې د اسلام دنن ورځ تر بلې د نړۍ پر مخ خوریږي او که مخه یې و نه نیول شي نو په ډېره چټکۍ سره به اّن د اروپا او امریکا لویو وچو ته ځان ورسوي، څکه چې دوي ته را څرګنده شوه چې اسلام داسې یو معقول دین دی چې له هیڅ طبیعي، اجتماعي، طبي او داسې نورو پر مخ تللو علومو سره حساسیت او ټکر نه لري، بلکې په خپلو ټولو تعلیماتو کې ټل انسان تمدن او دې ته هڅوي چې د خپل ژوند د ښه کولو لپاره لارې ولټوي او د ترقۍ په لوري خپل ګامونه چټک کړي تر څو په ټولنه کې یو ځانګړي حیثیت ولري، دلته نو غربیانو له حقیقت څخه سترګې پټې او د صلیبي تعصب او کینې له مخې یې په زور او زیاتي لاس پورې کړ تر څو د اسلام مقدس دین بیخي محوه او پر ځای یې په ټوله نړۍ یوه مسیحي امپراتوري جوړه کړي. په اسلامي ملکونو د پر له پسې یرغلونو په ترځ کې کله چې غربي وسلوالو ځواکونو خپله اتمه صلیبي حمله چې مشري یې په خپله د فرانسې پاچا « لویس » کوله په ۱۲٤۹ هـ ق کال د مصر په عربي هیواد وکړه، دغه حمله مسلمانانو له سختې ماتې سره مخامخ کړه آن تر دې چې « لویس » د مسلمانانو په لاس بندي او ځواکونه یې ځینې مړه او ځینې یې ایله په تیښته بریالي شول.

« لویس » د خپل ځان د خلاصولو لپاره ډېرې هڅې وکړې چې بالاخره یې ځان د ډېرو پیسو په بدل کې خوشې کړ . کله چې « لویس » بیرته غرب ته ورسیده فکر یې وکړ چې په مسلمانانو باندې د زور او جګړې له

لارې بری موندل یو ناشوني عمل دی، څکه چې مسلمانان په خپل خدای «ج» ترکل، ټینګې عقیدې او له خپل وطن او ناموس څخه دفاع دې ته کلک تیار کړي دي چې یا باید ټول مړه او یا د تل لپاره آزاد او خپلواکه اسلامي ژوند ولري ، خو د مسلمانانو د استعمارولو او تر خپل اغیز لاندې راوستلو غوره لاره داده چې عقیدې یې کمزورې، مفکورې یې خرابې او د جهاد جزبه یې بیخي له زړونو څخه وایستل شي تر څو په پای کې فقط په نوم مسلمان پاتې شي.

« لویس » خپل دې استعماري هدف ته د رسیدلو لپاره داسې لاره غوره کړه چې « غربي پوهان او فیلسوفان به د اسلام دین په هر اړخیزه توګه مطالعه کوي عربي ژبه به زده کوي او بالاخره به ځانونه ښه پرې پوهوي، تر څو له همدې دین څخه نوې وسله جوړه او **بیا یې د اسلام او مسلمانانو پر ضد په کار واچوي»**

د « لویس » په همدغې نظریې سره صلیبیانو خپل د استعمار واګې د جګړې له میدان څخه د مفکورې او عقیدې میدان ته را وګرزولې تر څو خپل مینځي اختلافات را ژوندي، دین له دولت او حکومت څخه بیل او خلکو ته دا په فکر کې ورکړي چې اسلام هم د عیسوي منحرف شوي دین په څیر یواځې له عباداتو څخه جوړ دی او په **کار ده چې یواځې په مسجد پورې منحصر وي.**

دلته باید دا خبره په پام کې ولرو چې صلیبیانو آن د اسلام له پیل څخه د اسلام پر ضد خپل ناوړه او بې بنیاده تبلیغات په کار اچولي دي مګر کوم منظم او بیلې شکل یې نه درلود بلکې هرچا په خپل وار د خپل

وس مطابق کوشښونه کړي دي تر څو د اسلام د پر مخ تللو په لاره کې خنډونه را پیدا کړي، اما رسمي او پیلې بڼه یې له هماغې نیټې څخه چې لویس د مصر له بندیخانې څخه خلاص شو ، را پیدا کړه.

د مفکوروي جګړې پیژندنه :

کولی شو دا ایډیالوژۍ یا مفکوروي جنګ داسې تعریف کړو : د مسلمانانو په زړونو ، عقلونو ، ارادو او د ژوندانه په بیلا بیلو اړخونو سیطره حاصلول تر څو همدا مسلمانان په خپله د اسلام ضد دندو ته جوړ او بالاخره اسلام له منځه یوړل شي.

غربي استعمار ګران او اسلام دښمنه عناصر له مختلفو لارو کوشښونه کوي تر څو خپل هدف ته چې د اسلام له منځه وړل دي ورسیږي او همدې هدف ته د رسیدلو لپاره زیار باسي تر څو لاندې مهم کارونه لاس ته راوړي :

۱ - په مسلمانانو کې داسې افراد پیدا کړل چې مفکوري یې له غربي استعمار څخه ډکې ، استعماري بیرغ یې په لاس او خلک دې ته رابولي چې د دین په پرینبودلو سره مدرن یا عصري ژوند پیل کړي.

۲ - په هر قیمت چې وي باید اسلامي نړۍ پرې نه ښودل شي چې یو موټې شي.

۳ - د مسلمانانو تر منځ ژبنی ، قومي او منطقوي اختلافات راژوندي کول تر څو په نتیجه کې د دوي داخلي قوت ضعیف او یو والی یې له منځه ولاړ شي.

٤ - په اسلامي نړۍ کې د غربیانو د نفوذ زیاتول او د اسلامي نړۍ په زړه کې یوه کلا جوړول او د هغې تقویه او د رسمي دولت شکل ورکول چې عبارت ده له « اسرائیلو » څخه .

دلته باید دې خبرې ته اشاره وکړو چې دغه غربي استعمار په دریو مرحلو کې منظم را روان دی :

لمړې د اسلامي خلافت (عثماني خلافت) له سقوط څخه مخکې مرحله.

دویم : د اسلامي خلافت دله منځه وړلو مرحله .

دریم : د اسلامي خلافت له سقوط څخه وروسته مرحله .

دغه مرحلې په صلیبي جنګونو سره شروع او په استشراق او تبشیر سره پای ته ورسیدې، چې همدا دوه ډلې به وروسته په تفصیل سره وپیژنو.

کله چې صلیبیانو د اسلامي نړۍ د ملکونو یو پر بل پسې په نیولو پیل وکړ د غربي کلیساګانو واکدارانو او مذهبي مشرانو له دې موقع څخه په استفادې سره د وخت غربي واکداران او ملتونه دې ته وهڅول چې د اسلام دین باید د ځمکې له مخ څخه بیخي محوه شي څکه چې دوي له دې دین څخه د غربي نړۍ لپاره د لوی خطر احساس کاوه .

دلته ځینې خلکو دا وهم کړی چې ددې صلیبي جنګونو اصلي لامل اقتصادي مصلحتونه وه او غربیانو غوښتل چې د ځمکې ثروت ټول را غونډ او غرب ته یې انتقال کړي، مګر حقیقت دادی چې د مسیحیانو اصلي هدف صرف او صرف د اسلام له منځه وړل وو او اقتصادي غرض بیخي په دوهم قدم کې وه . څکه چې د صلیب دیني او مذهبي لوبیانو ولیده چې اسلام د نړۍ پر مخ خوریږي ان تر دې چې مسلمانان جنوبي فرانسې ته ورسیدل او بحر ابیض یا سپینه بحیره بیخي اسلامي بحیره وګرزیدله .

سالار ته

الحاج عزیز الله زمريالی کلفورنیا، فریمانت - امریکا

ای د مـــځکی ســـر ســــالاره، د امت لویه بااداره
زه په عــذر او زارو کی الـعـجـــا کـړم رســـتګار ته
ته شـفـیع یی ته رفـیع یی ته عظیم یی ته قـسیم یی
ته احــمـــد د لوی الله یی ، منل شـوی الغــفـــار ته
ته حامی د خدای مخلوق یی ته شـفیع یی الرحمن ته
ته حکیم د سلیمان یی، ته محـب یی پاک ستار ته
انســـانیت په تا ســتـــایلی ، جـهـــالت دی تارتلی
ته قـبـول په عظمت یی په قــرآن د کل اخـتـیـــار ته
امـتـیـــان دی ســوالګر دی ستـــا له رویه لطف غــواړی
ته ناصح یی لطف دی وکـــړه نفع راوړه دا اضــــرار ته
د زمریالی عـرض و نیــاز دی دعـــا وکـړه ذوالجــلال ته
دا می هیله او امیـد دی، محـمــد «ص» زمـوږ ســالار ته

همت دی په کار

شفیتي

د آزادی په پاکـه لار کی شــهـــادت دی په کــار
له سر او مال نه ، تیـریدل او سخاوت دی په کار
د بی وزلانو خـــلاصـــول د ســتـــمګر له پنجــو
آســانه نه دی، مـــلا تړل او مـــتـــانت دی په کـــار
د لاپو، شاپو، غـوږو، ترږو بازار سـوړ غـوندی وی
ورځ د عـمـل ده، امتحـان دی، صداقت دی په کار
نړی ســـور اور د آزمـــایـیـښت ده د مـــسلم د پاره
په دغـه اور کی «ابراهیم» غـوندی همت دی په کار
د حق سنګر چی آبادیـږی د باطل پـه مـخ کـی
ســاتنه غـواړی د سرو وینو شـجـاعت دی په کـار

خپلواکی

خپلواکی د تیغ ځلا ده
خپلواکی د ژوند ښکلا ده
خپلواکی د حق نعره ده
خپلواکی د روح جلوه ده
خپلواکی هسی ځپه ده
چی : پاځون یی نمونه ده
د هستی په لوړ تکل دی
د منزل خوږه نغمه ده
بد بختی یی غیږ کی نشته
د خوښیو زمزمه ده
د اسیر وهیلو ځواک دی
د واک من وخت میلمنه ده
په سکوت کی شور او زوږ دی
په ژوندون کی حماسه ده
د ر ڼا بقا په کي ده
د ظلمت سره جګړه ده
خپلواکی زمونږه پت دی
خپلواکی تاج د عزت دی
عاشقان د خپلواکی یو
تری قربان به کړو سرونه
د تاریخ ستر امانت دی
ښکلو و بی قدمونه
په منګولو کی به سر موږ
د دښمن له سره یو سو
په ټول ژوند کی موږ خپلواک
وو،

شهید

شــهـیـدان عــاشق خـاص خـدایند
شــهـیـدان هـمـردیف انـبـیــاء اند
کــمـــراز بهـــر دین مـــردانه بـســـتـند
کــه تا کاخ کـرملین را شـکـسـتـند
نــهـــــــال آرزو را آب دادنــد
همـــه جــاوید نـام خـــود نـهـادند
به مـــیـدان شــجــاعت آن دلیــران
سلحشوري نمودنـد هـمـچو شیران
ز رحـــمـت باد روح آن جــوان شـــاد
کـه نـام او بـه نیکي مي شـــود یاد
به واپس مانده گــان این شـهـیدان
خـدایا اجـر ده بر جــملگي شــان
به هر فرد مسلمان این شعار است
کـه مـا را هـم شـهادت افتـخار است

ماه تابان مي درځي

ملا اسد الله «حنیفي»

د هندوکش ګـړنګه پام کـړه جـانان مي درځي — د ګل په څیر تنکي (طالب) ماه تابان مي درځي
غیږ ورته خلاصـه که په مینه مینه ناز یي واخله — پیـغـام د سـولي ورسره شاه خوبان مي درځي
تاله درورږي د مـلالي د سـیـمي مـسـتـه وږمـه — له توري ځنګ کول یي نه زده، قهرمان مي درځي
مـــا په نازونو لویاوه تا تي وړیا ښیـــمـــه — زخـمـي یي نه کـړي نازولي قـدردان مي درځي

نوي زلمي دنګه ځـواني قـامت د ســروي لري
د «حنیفي» د سـترګـو تور مرد مـیـدان مي درځي

کابل ۱۳۷۸/۵/۹ هـ ش

د شعر او ادب لړۍ

گیر و دار عشق

آصف «رحماني»

زاندم که دل بسینه من آفـریده اند
لبریز درد و داغ و محن آفـریده اند

دل را درون سینه دلدادگـــان عشق
خونرنگ چون عقیق یمن آفریده اند

بر قامت رساي شهیـدان راه عشق
از برگ سرخ لاله کـفن آفریده اند

سرکي نهم بپاي خس و خوار چون مرا
آزاد هـــمچو ســرو چمن آفریده اند

ما را چو شمع محـفل رندان پاکباز
روشن ضمیر و سوخته تن آفریده اند

سردار نــــامدارم از بهـــر کشتنم
شمشیر و چوب دارو رسن آفریده اند

از شعله هاي تیر ستم کي هراس ماست
ما را کــه آتشینه سـخن آفریده اند

آصف ترا چو طوطي شکر شـکن بنطق
شیرین کلام و غنچه دهـن آفریده اند

د ایمان زور

ن. نثار

د مظلوم زړه کی بل شـوی د غـځ اور یم — لکه تندر د آســمـــان غلیم په کـور یم
چی سانی د اسـتکبار کړمـه نسکوری — د ځـیـتـن واړه راســره د ایمـــان زور یم
د احساس او درک خاوند یمه ځوریږم — هسی نه چی د هوس په نیلی سـوریم
د «توحید» او د «فلاح» له عقیدی نه — د ربښتیني ژوند الهام یمه سمسوریم
کـــه می وینه تویه نشی د حق لار کی — په عـالم کی شرمنده هم به مـخـشوریم
آزادی چی د هیـــواد تر لاســــه نه کـړم — د «تیکه» له هده نه، خدایږو، چی نوریم

مستقل هویت لرم او چت می شان دی
زه غلیم د بل نشان سـوځک او لوریم

مسؤولیت ها و عملکرد ها

بهرام بریال

به هر اندازه که جامعه انساني رو به تکامل مي نهد و به تمدن و پیشرفت ضرورت پیدا میکند به همان اندازه توقعات انساني نیز بیشتر میگردد.

انسان موجودي نیست که مفرد و مجرد باشد بلکه سرشت او به کلیه مناسبات اجتماعي اش پیوسته و گره خورده است، یعني مفهوم و معني زندگي انسان تنها در امور زندگي فردي وي خلاصه نشده بلکه به زندگي اجتماعي وي وابسته و در ارتباط میباشد چنانچه حضرت سعدي بزرگوار میفرمایند:

بني آدم اعضاي یکدیگر اند
که در آفرینش ز یك جوهر اند

در حقیقت امر انسانیت و اخلاق انساني داشتن آن است که براي اسایش و رهایي همنوع خود از مصایب روزگار در تلاش باشد، انساني که در جامعه زیست دارد و حیات به سر میبرد در قبال خویش یك سلسله وظایف و مکلفیت هاي حقوقي دارد که مراعات لازمه آن، حفظ و تعادل پیشرفت زندگي اجتماعي او را در بر میگیرد، تا در شرکت با کار هاي مفید اجتماعي و تکامل هرچه خوبتر و بهتر مسؤولیت وجداني خویش را ادا سازد.

نوع دوستي و ارزش دادن به همنوع و افراد جامعه و عملکرد از روي وجدان سالم به وظایف خودي و مراعات حقوق دیگران اهمیت به سزایي به ما داده، ما را انسان فدا کار و مصدر خدمات شایسته بار میآرد. گریز و دوري از وظایف فردي و اجتماعي به هر شیوه و بهانه یي که باشد علامت برجسته فرومایګي و فقدان شرافت انساني بوده و از جمله صفات ستمگران و استعمار گران میباشد.

در جامعه ایکه حقوق مردم مراعات و احترام نمیشود همانست که سرکشان با شیوه هاي شوم زورگویي، اغواء، فریب، غصب حقوق دیگران و کسب امتیازات، کرامت انساني را به بازي گرفته و باعث بي بندو باري و بي نظمي در جامعه میگردند و عواقب وخیم و ناگواري را به بار آورده افراد جامعه را ذلیل و جامعه را به قهقرا میکشاند.

خداوند عالمیان انسان را افرید و اشرف مخلوقاتش خطاب کرد و مراعات و احترام به حقوق یکدیگر را یکي از مهمترین و برجسته ترین فضایلي انساني بر مشرد. که خود ارزاني لطف و کرم خداوند متعال است.

پس لازم است تا انسان صاحب عقل و شعور در امور اجتماعي و فردي مطابق احکام و اساسات دین مقدس اسلام، آبرومند و با عزت زیسته و با همنوع خویش پیشامد صمیمانه و صادقانه داشته، مصدر خدمات شایسته گردد و از حرص و آز و مقام پستي و کینه و غرور دوري جسته و از سلیقه هاي شخصي و هوسهاي شوم و بي جا که باعث بدنامي و تباهي شخصیت انساني او میشود بپرهیزد و عظمت و بزرگي خود را که انسان آفریده شده است دریابد.

حمدالله ما مسلمین پیروان شخصیت پیامبر والا مقامي هستیم که حضرت پروردگار عالمیان، جهان پهناور را به عزت و بزرگواري چهره رخشانش آفرید و ما از نعماتش به طریقه هاي گوناگون مستفید و متنعم هستیم.

بناً براي ما احکام الهي «ج» و قوانین ثابت، پا برجا و وضع شده به ارمغان گذاشته شده است تا از آن منحیث سر مشق و رهنمود خوب در کلیه امور اجتماعي و فردي خویش استفاده نمایم.

حالا اگر ادعاي شخصیت و دعواي انسانیت داریم لازمست تا ارزش هاي انساني و حقوق بشري را بر مبناي اساسات اسلامي درك کرده، به راحتي و دور از رنج و مصائب و آلام و فارغ از وسوسه و تشویش، آبرومندانه و با عزت زنده گي نمایيم و مصدر خدمات شایسته و با ارزش براي همنوع و جامعه اسلامي خویش گردیم.

اگر همیشه این سخن پیامبر بزرگوار اسلام حضرت محمد «ص» را در نظر داشته باشیم که آنچه را به خود نمي پسندیم براي دیگران نیز آنرا نخواهیم پسند نمود. بسیاري از مشکلات احتمالي را قبل از وقوع حل شده خواهیم یافت و بر علاوه میتوان گفت که نقش موثر شخصیت انساني در حل مشکلات ایجاد شده غیر قابل انکار است.

آنعده کسانیکه تماماً از یك شخصیت قوي برخودار اند بدون اینکه با قانون آشنا باشند شخصاً میتوانند اعمال خلاف قانون را به آساني تشخیص داده راحت و آسوده زیست نمایند.

از نظر اصولي در روابط حقوقي رعایت قانون باید همچون بیگانگان و در معاشرت و روابط اجتماعي مانند عزیزان باشد، روي این اصل زماني کامیاب خواهیم شد که همانا هدایات آیین مقدس اسلام را سرمشق کلیه عملکرد ها و تصامیم و برخورد هاي فردي و زندگي اجتماعي خویش قرار دهیم.

بنايي ساختماني دستګاه د افغانستان د اسلامي امارت ...

دستګاه له خوا د کابل - ننګرهار او هرات په ولايتونو کي تر سره شوي دي :

د کابل ښار کي : د کابل د طب انستيتوت د کمپيوټر د مرکز ستري محکمي د احصايي د مرکزي اداري د پلان وزارت پنځه پوړيزه د آهن کانکريټ د تل جوړولو د فابريکي د مرکزي پولي کلنيك او د وينو بانك د چمتلي په دسته کي د تخنيکي خدماتو د ايستګاه او ستيشن د بادام باغ بګراميو او جنګلك د چرګانو د فارمونو د وخت د افغان - د کلتوري مرکز ، د لوګر سيند په بهير کي د اوبو رسولو د تاسيساتو، په لومړي لمبر مکروريانو او پروان مېينه ګي د دوو ښوونځيو دليليو او په خپله د بنايي ساختماني دستګاه د اداري مرکز او ... وداني شاملي دي دغه راز د ننګرهار په ولايت کي د ننګرهار پوهنتون، د ننګرهار دوه سوه بستريز روغتون، د ننګرهار ولايت د غني خيلو او کمکي خيبر د عسکري غند د استوګنځايونو، د جلال آباد ښار د زيتونو د پروس د فابريکي، د جلال آباد ښار د ښوونځي دليلي او داسي نورو زياتو ودانيو او تاسيساتو ساختماني چاري او همدارنګه د هرات په ولايت کي : د هرات د نساجي فابريکي، د هرات د مسلخ او د هرات د دوه سوه بستريز روغتون د ودانيو ساختماني چاري شاملي دي د نوموړي دستګاه محترم رئيس د خپلو خبرو په ترځ کي زياته کړه : د بنايي ساختماني دستګاه د افغانستان د اسلامي امارت د عام المنفعه پروژو د بيا رغاوني او ودانولو چاري په غاړه لري چي البته دغه چاري د انکشافي يا عادي بودجي په مرسته تر سره کيداي شي.

دي زياتوي د مسعود – رباني د تش په نامه حکومت په دوران کي د جنګ جګړو له امله د بنايي ساختماني دستګاه ودانيو، اثاثيه بابيه، ترانسپورتي او ساختماني وسايطو، او د کورنيو او بهرنيو ساختماني موادو زيرمو ته سخت زيات زيانونه واوښتل، د ۱۳۷٤ هجري لمرزي کال د سنجش له مخي دغي دستګاه ته رسيدلي زيانونه په **مجموعي توګه نژدي دري ديرش مليارده افغاني اټکل او اړوندو مقاماتو ته يي رپوټ وړاندي شو .**

د بنايي ساختماني دستګاه همدا اوس د پلان وزارت، د احصايي مرکزي اداري د پل تخنيك انستيتوت ، د کمپلکس د بوي برخي، د بنايي ساختماني دستګاه د اداري مرکز او د تلويزيون د ستديو او د تکنالوژي د ودانيو ترميماتي چاري ترلاس لاندي لري او دغه شان دبنايي ساختماني دستګاه او راديو تلويزيون او افغان فلم د عمومي رياست تر منځ د لاسليك شوي قرار داد د موادو په اساس به په ډير نژدي راتلونکي کي ددغه رياست د اړوندو ودانيو ترميماتي چاري پيل کړو همدا اوس موږ د خپلو اړوندو فعاليتونو د ترسره کولو په خاطر شپږ عرادي نقليه ماشينري او دولس عرادي نقليه وسايط په واك کي لرو چي له دغو وسايطو نه په ساختماني چارو او د اوليه موادو او پرسونل د حمل و نقل په منظور ګټه اخيستل کيږي .

دغه راز بايد يادونه وکړم چي په دي وروستيو ورځو کي د بنايي ساختماني دستګاه ٦٤٨ کسيز تشکيل منظور شو چي له دي جملي نه ۲٦٦ تنه کارمندان او **۳۸۲ تنه نور توليدي او خدماتي کارګران دي.**

محترم ملا عبدالمتين مولوي زاده د خپلو خبرو په پاي کي وويل د بنايي ساختماني دستګاه د افغانستان د اسلامي امارت له چارواکو څخه هيله لري چي د بيا رغوني او تجهيز او همدارنګه ددغي دستګاه د دوراني پانګي د بشپړتيا په برخه کي له موږ سره مرسته وکړي . موږ د خپلي دستګاه توليدي ظرفيت د سرمايه ګذاري په لومړي نمبر فورم کي په نښه او ليکلي او خو ورځي پخوا د فوايد عامي وزارت له خوا د پلان وزارت ته وړاندي شو هيله لرو چي دي دستګاه ته په هماغه اندازه چاري ور وسپارلي شي.

پیښې او پرمختګونه — حادثات و انکشافات

الجزایر و فرانسه روابط شانرا بهبود می بخشند

پس از ساليان متماي تحرك در بهبود روابط ميان دو کشور الجزاير و فرانسه رونما گرديده است .

اووي ودرين وزير خارجه فرانسه پس از ملاقات و انجام مذاکرات با عبدالعزيز بوتفليقه رئيس جمهور الجزاير اظهار داشت که فصل تازه يي در مناسبات ميان الجزاير و فرانسه گشوده خواهد شد. و درين وزير خارجه الجزاير را جهت يك بازديد رسمي از فرانسه دعوت نمود. بوتفليقه رئيس جمهور الجزاير بالمقابل از رئيس جمهور فرانسه دعوت بعمل آورده است تا از الجزاير بازديد رسمي بعمل آورد.

تاريخ اين مسافرت بعداً اعلام خواهد گرديد.

ترکیه به ایران هشدار داد

اسمعيل چم وزير خارجه ترکيه گفت به ايران هشدار داده است که اگر دو عسکر ترکيه را که در اسارت خود دارد هر چه زود تر آزاد نکند تشنج در روابط دو کشور شدت خواهد يافت . اسمعيل چم ديروز به خبرنگاران گفت که اين هشدار را به کمال خرازي وزير خارجه ايران تسليم کرده است. اين دو وزير در سرايوو در حاشيه شرکت در اجلاس عالي حوزه بالکان با يکديگر ملاقات و مذاکره کردند.

وزير خارجه ترکيه گفته است که در اين ملاقات خرازي وعده داد که از حد اکثر اختيارات و امکانات خود براي رهايي اين سربازان که اخيراً پس از عبور از مرز و وارد شدن به خاك ايران دستگير و زنداني شده اند استفاده کند روابط بين ترکيه و ايران با وارد کردن ضربات اخير ترکيه به ايران تيره شده است.

ادامه بمباردمان عراق توسط طیارات امریکایی

طيارات جنگي ايالات متحده امريکا مستقر در جنوب ترکيه ديروز براي پنجمين روز متواتر به اصطلاح مناطق ممنوعه پرواز واقع در شمال عراق را بمباران کردند.

يك منبع امريکايي اظهار داشت که بمباري پس از آن صورت گرفت که نيروي مدافعه هوايي عراق طيارات مذکور را هدف قرار دادند. هنوز از رقم دقيق تلفات و يا خسارات وارده ناشي از اين حملات گزارش نگرديده است . منطقه ممنوعه پرواز براي طيارات عراق در شمال و جنوب آنکشور جهت حفاظت از کردان پس از جنگ خليج توسط غرب به ميان آمده است حکومت بغداد به اصطلاح اين منطقه ممنوعه پرواز را به رسميت نمي شناسد.

تر غرمي وروسته خوب به مواقب لري

نويو څيړنو ښودلي ده چي د زړه دريدل او د ماغزو له کاره لويدل زياتره له خوب نه د ويښيدو په وخت کي رامنځته کيږي او په هغو اشخاصو کي د زړه د ډول ډول دريدو او د ماغزو له کاره لويدو احتمال زيات دي چي په معمولي ډول له غرمي وروسته ويده کيږي .

په دي څيړنه کي د بيت المقدس په ښار کي د څلور زره پنځه سوه پنځه پنځوسو اوه لس کلنو ځوانانو حالت د شپږنيمو کلونو لپاره تر څيړ ني لاندي ونيول شو د څيړني نتيجي وښودله چي د هغو ماشومانو د څيړني اندازه د نورو په پرتله دوه برابره ده چي له غرمي وروسته ويده کيږي . پخوانيو څيړنو ښودلي وه چي د زړه د دويدو احتمال د سهار په لومړيو وختو کي چي خلك له خوبه راويښيږي زيات دي هغه ځکه چي په دغو وختونو کي د زړه د دريدو سبب کيږي د وينو د فشار لوړوالي او د ويښيدو په لومړيو شيبو کي د زړه تکانونه دي.

کانادا در عرصه هاي ...

غيره مسايل به سرپرست وزارت فوايد عامه اطمينان داده بالمقابل محترم ملا الله داد «شهيد ورور» سرپرست وزارت فوايد عامه خواهان توسعه همکاري کشور کانادا با امارت اسلامي افغانستان گرديد.

در نظر است تا به ادامه باز سازي کشور پلانها و برنامه هاي احياي شاهراه ها ميدانهاي هوايي و ساختمان سرکهاي مواصلاتي به همکاري کشور کانادا در آينده نزديك عملي گردد.

چندین جریب زمین ...

گرديده بود توسط ترکشور پاکسازي نموده و بته هاي چرس را از بين بردند عاملين کشت چرس را نيز گرفتار نموده اند.

مسعود به کمك نظامیان ...

انجنيران هندي مصروف ترميم اسلحه و غيره وسايل حربي مليشه هاي مسعود بوده و در عرصه ساختمان استحکامات نظامي نيز آنها را مساعدت مي بخشند در پايان اين اطلاعات آمده است که مسعود هزاران حلقه ماين مختلف النوع از جانب هند دريافت نموده و به کشت آن در مناطق مختلفه تحت حاکميت خود مبادرت ورزيده است تا گفته نبايد گذاشت که حکام هندي با اين عمل خود به مناسبات آينده دو کشور صدمات جبران ناپذيري وارد نموده و هيچگاه از اين طريق منفعتي حاصل نخواهد نمود.

مخالفت ها علیه افراد ...

مسعود و شوراي نظار ا[illegible] نموده و هر لحظه احتمال پرسش قوماندانان مسعود با اردوي امارت اسلامي و قيام عليه مسعود از امکان بعيد نيست چنانچه اخيراً قوماندان عبدالهادي صافي و قوماندان حبيب افغان با نه صد تن از افراد مسلح شان به مجاهدين امارت اسلامي پيوسته اند و اکثريت افراد مخالفين نيز اکنون به اين نتيجه رسيده اند که مخالفت با امارت اسلامي بي نتيجه بوده و مسعود به خاطر منافع بيگانگان از آنها استفاده سؤ مينمايد.

همچنان خبر برسد که اوضاع حکومت بدخشان خيلي دگرگون بوده همه مردم ضديت جدي شانرا با مسعود ابراز داشته و منتظر ورود هر چه زود تر طالبان به مناطق شان مي باشند، اين اطلاعات، که ذريعه تماس هاي مخابروي مخالفين نيز تصديق گرديده است نويد مي دهد که عنقريب انشاء الله لواي سپيد امارت اسلامي بر فراز همه کشور در اهتزاز آمده و بساط مليشه ها از کشور چيده خواهد شد.

سوالي براي حضور ...

تاجکستان با افغانستان وجود ندارد.

وي افزود: که ميعاد عساکر روسيه در ترکمنستان هم بزودي پايان يافته و اختلافات جمهوريت هاي آسياي ميانه با مسکو روبه افزايش است .

اين کار شناس گفت که تنها تاجکستان بحيث مهره اساسي روسيه در منطقه نقش اساسي ايفا مي کند.

موصوف تصريح کرد که حضور نظاميان روسيه در امتداد سرحدات افغانستان براي مسکو حايز اهميت زياد بوده و مسکو خروج آنها را به ضرر خويش مي داند .

د ستري محکمي ...

ډول ډول پيچلو دوسيو په باب فيصله شويده .

خبر ځاي زياته کړه ددغو دوسيو له جملي نه د دوه سوه نهو ديرشو دوسيو په باب د ستري محکمي د جزا په ديوان کي د يو سلو يو دوسيو په باب د ستري محکمي په مدني او د عامه حقوقو په ديوان کي دا وه څلويښتو دوسيو په باب د ستري محکمي د عامه محکمي په ديوان کي دا وو دوسيو په باب د ستري محکمي د صلاحيت د تنازع په ديوان کي او د نولسو دوسيو په باب د ستري محکمي په تجارتي ديوان کي د همدي مودي په بهير کي له دقيق او هر اړخيز غور او څيړني وروسته پريکړي صادري شويدي.

دروس کورسهاي ...

گرديده بود محترم قاري ذبيح الله زاهد معين علمي و تدريسي وزارت تحصيلات عالي در رابطه به اهميت وارزشمندي تدوير همچو کورسها در جهت ارتقاع سطح دانش مسلکي و معلومات بيشتر مامورين و آمرين در عرصه مسايل اداري صحبت نموده و از شاملين کورسها تقاضا نمود تا با در نظر داشت اهميت و نتايج مثبت همچو کورسها در جهت کسب معلومات و ارتقاي دانش مسلکي خويش جديت بخرج داده تا مصدر خدمت بيشتر به هموطنان گردند. اين کورسها که مطابق برنامه از طرف رياست انسجام امور اکادميك وزارت تحصيلات عالي تدوين شده است تحت عناوين مهارت هاي رهبري و اداره بررسي و کنترول اقتصادي مالي از نظر اداري و حقوقي محاسبه نويسنده گي و طرز مکاتبه داير گرديده که توسط استادان و محققين ورزيده پوهنځي هاي اقتصاد، حقوق و علوم سياسي، ادبيات و علوم بشري پوهنتون کابل و اداره کنترول و تفتيش اداره امور براي هشتاد نفر از مامورين جديد التقرر وزارت تحصيلات عالي مؤسسه طب کابل ، پولي تخنيك، پوهنتون کابل و پيداگوژي براي مدت چهار ماه تدريس ميگردد.

نیرو هاي امریکایي به ...

سال ۱۹۷۷ ميلادي صورت گرفته است.

ايالات متحده امريکا به اساس موافقتنامه مذکور متعهد است تا پايان سال جاري ميلادي کنترول و اداره کانال پانامه را به دولت پانامه واگذار کند.

د نیمروز ولایت ...

په هغي غونډه کي چي ددغو نمرو د ويشلو په مقصد جوړه شوي وه د نيمروز ولايت کفيل محترم ملا گل محمد اشرفي د غور غوري ښاروال محترم مولوي عبدالصابر صابري د ښارونو او د عام المنفعه تاسيساتو د بيا جوړوني او پاختيا په باب د اسلامي امارت د پروګرامونو په باره کي برخه والوته معلومات ورکړل او د استوګني د کورونو او **دکانونو نمري يي په مستحقو کسانو باندي وويشلي.**

د غور غوري په ښار کي د استوګني د کورونو او دکانونو د نمرو د ويش لړي روانه ده .

په امریکي کي هر کال ...

بايد په غونډو طبي مرکزونو ښوونځيو کي برخه واخلو چي له هغو کسانو سره چي د ځان وژني له خطر سره مخامخ دي مرسته وکړو تاچر اعلام وکړ چي ځان وژنه له پنځلسو نه تر پنځويشتو کلونو د ځوانانو تر منځ د مرګ دريم عامل دي او د ماشومانو تر منځ ځان وژنه چي له لسو نه تر څوارلسو کلونو پوري عمر لري ډيره زياته ده د کلنټن دولت د ځان وژني لپاره د څيړني او مخنيوي په خاطر دوه ديرش مليونو ډالرو غوښتنه کړيده .

د ګڼون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

تبصره

د اخضرابراهیمي څرګندوني که د ملګرو ملتونو د حیثیت چیلنج

ټولو نړيوالو ته څرګنده ده چي د ملګرو ملتونو نړيواله اداره د نړيوالي ټولني له خوا د خير ، نيکمرغي او سولي په هيله رامنځته شويده او د ښتنه ايښودونکو اساسي هدف يي د ناپلويتوب او ناپييلتوب په فضا کي ددي اداري له خوا په نړي کي د پيښو کړکيچونو حل کول او د دوو متخاصمو خواوو تر منځ د سولي تامين دي. د همدي اصل له مخي ملګري ملتونه دنده لري چي په نړي کي ټولي هغه لانجي چي د هيوادونو اويا ولسونو تر منځ را پيدا کيږي د ناپلويتوب او ناپييلتوب په فضا کي دريمګړي په خير حل کړي او هيڅکله هم حق نه لري چي ځان د قضيي طرف واقع کړي او په اصطلاح د دوه متخاصمو خواوو څخه يو طرف شي او ځان نه د ناحقي وکيل مدافع جوړ کړي .

خو په ډير تاسف سره بايد وويل شي چي داسي ښکاري چي ملګرو ملتونو خپل شعار او داعيه تر پښو لاندي کړي وي او د خپل منځګړيتوب حيثيت يي تر ګواښ او سوال لاندي راوستي وي او داسي برېښي چي د ملګرو ملتو موسسه اوس د بوي ځانګړي مرجع نه هدايت غواړي يا په بله وينا د يو ځانګړي هيواد تر تاثير لاندي راغلي وي او د همدي هيواد د اجرايي قوي حيثيت يي خپل کړي وي چي غوره بيلګي يي د عراق، کشمير، فلسطين، کوسوو او د افغانستان په مسئلو کي ددي نړيوالي اداري دريځ ګڼلي شو .

نړيوال وينې چي نژدي دوه ويشت کاله کيږي چي په افغانستان کي د وينو سيلاب روان دي خو ملګرو ملتونو تر اوسه پوري ددي اور د وژلو لپاره هيڅ کوم اغيزمن ګامونه دي پورته کړي او که ډير څه يي کړي دي هغه کله نا کله افغانستان ته د يو استازي ليږل دي چي تر اوسه پوري يي د کار پايله څه چي حتي کار هم معلوم نه شو او ډير وخت داسي کيږي چي پريکړي او څرګندوني يي په حقايقو د استناد په ځاي يا عاطفي وي او يا هم د يو طرف په پلوي مغرضانه وي چي ددي دعوي د ثبوت لپاره هم افغانستان ته د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي اخضرابراهيمي د تيري شپي څرګندوني وړاندي کولي شو اخضر براهيمي د رويټر له خبري آژانس سره د خپلي دندي د اصليت، د خپل حيثيت او موقف له په نظر کي نيولو پرته دد داسي څرګندوني کړي چي په اوريدلو يي د حيرانتيا تر څنګ سړي ته دده په ماموريت هم شك پيدا شي .

براهيمي د افغانستان په اسلامي امارت تور لګولي دي چي ګويا د څينو نورو د هيوادونو په صفونو کي ځاي لري او يا دا چي ګوندي د سولي پروسه طالبانو سبوتاژ کړه که له ښاغلي براهيمي څخه وپوښتل شي چي يو څوك چي د سولي په نوم راپاڅيدلي وي او ځان يو دريمګړي مصلح عنوانوي نو ايا د هغه لپاره داسي جارحانه او غير مسولانه څرګندوني معقول کار دي ؟ آيا يو دريمګړي او مصلح همدا مواصفات لري ؟ آيا دداسي يو طرفه فکر او قضاوت خاوند به د جګړي د دواړو لوريو باور او اعتماد جلب کړلي شي؟ آيا دا په خپل لاس د خپلي بي طرفي دعوه چيلنج کول نه دي ؟!

د حيراتي وړ بل فکتور د اخضر براهيمي په ذهن کي بريښنا ډوله انقلاب دي نړيوالو به په همدي نژدي شپو او ورځو کي د اخضر براهيمي هغه څرګندوني هم اوريدلي وي چي د اسلامي امارت په مخالفينو يي د اسلامي امارت بي باوري او عدم اعتماد يو په ځاي اقدام وباله او ويي ويل چي د طالبانو د مخالفينو په سيمو کي امنيت نشته دي ، د مخدره موادو ترافيك ازاد دي ، چور چپاول او اختطاف ډير دي ... خو نن بيا د همدي باغيانو تر څنګ ودريږي او له ځانه يي مدافع وکيل جوړوي. زموږ په اند د ډيرو لاملونو تر څنګ ددي ذهني تحول او انقلاب يو لامل دا دي چي اخضراً براهيمي غواړي چي په دي توګه د خپل ماموريت ناکامي پټه کړي او تر شعاع لاندي يي راولي کـه نه دا يو واقعيت دي چي افغان ولس يو غيرتي او با شهامته ولس دي هر وخت يي په خپل مټ اتکا کړيده او انشاء الله چي په راتلونکي کي به هم همداسي په ځان ويسا او متکي وي، د افغانستان اسلامي امارت خپله ځواکمن او منظم اردو لري او هيڅکله بهرنيو اتباعو ته اړه نه لري چي په نظامي برخو کي يي تر څنګ ودريږي نړيوالو به تيره شپه په همدي اړه د دا ډول پروپاګند کوونکو په وړاندي د عاليقدر امير المؤمنين چيلنج اوريدلي وي، عاليقدر امير المؤمنين په زغرده دا تورونه رد کړل چي ګويا د اسلامي اردو په صفونو کي بهرني اتباع جنګيږي د عاليقدر امير المؤمنين څرګندوني چي موږ چمتو يو چي بهرنيو ژورنالستانو ته د خپل جنګي خطونه ورونيو او نړيوالو ته دا ثابته کړو چي زموږ تر شا زموږ خپل مسلمان ولس ولاړ دي .

نو د ملګرو ملتونو اداري او په ځانګړي دول اخضراً براهيمي ته په کار ده چي د يو طرفه جارحانه او تخرشيونکو څرګندونو په ځاي په خپله هم حقايق ومني او نور نړيوال هم په افغانستان کي د حقايقو منلو ته راوبولي دي بايد هڅه وکړي چي د افغانستان لانجه په معقول انداز حل شي او د افغانستان د اسلامي امارت په رسميت پيژندني لپاره لاره هواره کړي ځکه دا يو واقعيت دي چي اسلامي امارت د افغانستان د مسلمان ملت رښتوني ممثل حکومت دي.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Dawlati Printing Press